Share

Twittern

غلام محمد مرجه وال

۲۰۱۲/۰۵/۱۰

# هلمند، کوکنار، دولتي اوطالبي باج

((ترخوچي خپلسرۍ اوبې کفايته اداره پرملت جابره وي ملت به نيکمرغی ورځ ونه ويني اوترخوچي واکمن نظام دجنايتونوپه کابوکي پاته وي تولنه به په ناورين کي وي.))
کوکنارچي په نړی کي يې افغانستان دکراوتوليد په سرکي ځای لري ، په دې ورستيو کلونو کي يې دکرهني لمن شمالي ولايتونو ته هم غزېدلي ده.
خوپه سويل لوېديزو ولايتونوپه ځانګړې توګه (هلمند) کي يې کرهنه د نورپه پرتله پخوانۍ او زياته ده.



۱. په هلمند کي دکوکنارودکرهني وخت: کوکنارپه هلمند په مجموع کي دمني په لومړی او دوهمه مياشت کي کرل کيږي اوترنهو مياشتو ورسته ترډير سخت زيار ورسته چي حتي په يوه نبات هم دکوکنارو په څېر لګښت او زيار نه کيږي لکه په دې ناروا او چټل بوټي چي کيږي؛ دسپرلي په لومړی(حمل ۲۰-۲۵) کي يې کښت رسيږي او نېښ ياتولول يې پيليږي او د ثور ترشل – پنځويشت پوري يې کار دوام کوي خودا وخت بيا دهلمند په شمالي ولسواليو کي څه فرق لري ځکه هغه سيمه نسبتآ سړې دي او په هلمند کي يوه ا صطلاح هم ده چي دنهو مياشتو کښت په نهه ورځو رسيږي.

۲. په هلمند کي دکوکنارو (ترياکوبيه): په هلمند کي ديوکيلو متوسطو ترياکو بيه تيره جمعه د(۱۵۰۰۰ څخه تر ۱۸۰۰۰) کالدارو پوري ده چي معادل يې (۱۰۰۰۰) لس زره افغانۍ ده چي ډالري معادل يې (۲۰۰) ډالره يوه کيلوکيږي چي په نړې کي ديوې عادي يو خوراک ډوډۍ سره برابره ده په دې نرخ کي به بزګرڅه ګټه وکړي؟!

۳ . د۱۳۹۰ کال په پرتله د۱۳۹۱ کال دکوکناروکښت: تېرکال دکوکنارو په تاريخ کي ډيرغوره کال ؤ چي هربزګر ترتمي زيات کوکنار پرټول کړل علت يې ښه هوا اود بې وخته بارانونو نه شتون ؤ ځکه دکوکنارو بوټی له لږ څه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

گرمي اومعتدلي هوا سره ښه وده او شيره(شيده) کوي ، چي سږ کال هرچاته معلومه ده چي په گرمو سيموکي هم دژمي ډېره يخه لړۍ دسپرلي په لور را وغځېدل او بل داچي دحوت دمياشتي دورستۍ ورځي دوړنه او يخه ورځ د کوکنارو په ناورين واوښتل ځکه نوکه يوې ځمکي دمثال په ډول تير کال لس کيلو دکوکنارو شيره کوله سږ کال يې کچه يوې کېلوته رسيدلې چي ډير ژر به ددې خبري پخلی د افغان اوبهرنيو سرچينو له خواهم وسي حتی بزگرانو په ډېری سيموکي خپل دځمکي ديوي اوکودکيمياوي مصرف هم نه دی په جوړکړی او دامبالغه هم نه ده هر څوک کولای سي چي دهلمند له بزگرانوسره اړيکي ونيسي په خاصه توگه زموږ دمرجې په ولسوالۍ کي. ښه بېلگه يې درې ورځي مخکي د هلمند په نوزات ولسوالۍ کي ديوه بزگر، ميرمني اويوه زوی ځان وژنه په دې خاطرچي په کوکناروېې سوی مصرف نه دی جوړکړی او دخلکو پوروړي وه.

٤ . پوليس او نېښگر(دکوکناروکارکوونکي): دکوکنارو دکښت په رارسېدو سره دهلمند ځايي پوليسو جيبونه هم وپړسېږي او هم دخلکو سره په چلند کي له عادي حالت څخه ووزي اويوډول وحشي حالت غوره کړي هغه دچاخبره سترگي يې په ککرۍ کي وي، هيڅ شی د قوانين په نوم نه پېژني که ملي پوليس دی که ترافيک پوليس دی او يا دترانسپورټ کارکونکی دی دهغو کسانو څخه چي له نور ولسواليو يا نورو ولايتونو څخه دکوکنارو دکار لپاره يوځای بل ځای ځي اوراځي گيروي يې او له سل پاکستانۍ کالدارو اويا اوفغانيو څخه نيولې تر دوه – درې زرو پوري ورڅخه اخلي کنه بنديانوي او شکنجه کوي يې . هرڅوک کولای سي چي دا حالت په خپلوسترگو په لښکرگاه کي پرهلمند رود دجوړ سوي پله گرشک او دمرجې اوناوې،نوزات اوواشېر ولسواليو پر سر لاري يا هغه لاري چي ناوې،نادعلي اومرجې ولسواليو ته ځي ووينې چي هره ورځ په لسگونو کسان دسړک پرغاړه په توقيف اوشکنجه کي وي کي وي ترڅو ورسره پيسې اودجيب ورسره شيان يې ټول ورڅخه د کوکنارو په تور واخلي او بيا يې خوشي کړي .

٥. ځايي پوليس اودکوکنارپيسي: له هغي ورځي څخه چي دکوکنارو تخم په ځمکه کي وکرل سي ځايي پوليس هم ببراوسترگي يې سرې شي، اوس په هلمند کي ملي اومحلي پوليسو په گډه همکارۍ دکوکنارو دباج لپاره ټاکلی نرخ ايښی دی هغه دا چي هر چا کوکنار کرلي وي پر( يوه جريب )ځمکه ورڅخه زر-دوه زره (١٠٠٠-٢٠٠٠) پاکستانۍ کالداري په غير قانوني توگه اخلي چي دانرخ په خانشين ولسوالۍ کي پرجريب پنځه زره اخيستل سوي دي که چا ته شک پيداکيږي لطفاً دي دخانشين ديوه بزگره څخه وپوښتي.

اوبيا وررسته بزگر کولای سي چي له خپلي نژدې حوضې اويا ولسوالۍ دکوکنارو دماتيدو له کمپاين څخه ځان په دې توگه خلاص کړي تر دې چي يو کس سلگونه جريبه ځمکه لري؛ ولي معياري مبلغ همدادی چي داکار له گرشک ولسوالۍ څخه نيولې چي دکوفکي، چاه انجير، سويک غربي، سي ويک شرقي، باباجي عينک، شين کلی اوسيدآباد چي دنادعلي ولسوالۍ اړوند او دمرجې اونادعلي دښتي دباوړيو(څاگانو) داوبوځمکي تر خانشين پوري دهغه ځای د دولتي چارواکو له خوا ټوليږي، چي په دې ملي، ديني اوبشري خيانت کي دولت اوملت يا( د کوکنارو کرونکي بزگران) دغبرگ ناقانونه چلند له مخي مجرم گڼل کيږي.

تريخ ناور، لوچاراهي، کروچاراهي، دتاجيکانو بلاک اوسيستانی سيمي د مرجې ولسوالۍ اړوند دي، همدا يونرخ دی او دنوموړو ولسواليو ځايي قومندانان او ولسوالان په دې کار کي سره يوه سلا، همغږي او خواخوږي لرۍ، ځايي اوسېدونکي او بزگران يو تن په خپل منځ کي وټاکي او يادي پيسې له ټولو کروندگرو څخه ټولي کړي او بيا يې ولسوالۍ ته ور وړي اويا .يادي پيسې د قومندان له خوا ورښودل سوې شخصي صرافيو کي جمع کيږي.

يادي پيسې ډېر لوی مبلغ دي چي په هلمند کي همدا حالت دامنيت او سوکالۍ سره په ټکرکي دی او په دې کار کي ددولت د مخالفينو او ناقانونه ډلگيو جيبونه هم ډکيږي؛ او دا يو رښتنۍ حقيقت دی هرڅوک کولای سي دټليفون له لاري يا مخامخ په هلمند کي له يوه عادي بزگرڅخه هم پوښتنه وکړي ترڅويې شک ليري سي؛ او په دې کي هم شک نه پيداکيږي چي ددې بې هوده بيخي ډيرو پيسو چي لکونه جريبه ځمکه په ميليونو پيسې يوازې د ملي اومحلي پوليسو تر تنگ ستوني دتېردو امکان نه لري بلکي دهلمند لوړپوړو چارواکو په لارښوونه يې راټولوي اوبيله لوړپوړوچارواکوچي حتی دځينو پټو سرچينو په وينا ددې پيسو مستقيمه ونډه تر وزارتونو اوپايتخت کابل پوري هم رسيدلې ده او دوه – درې وزيران هم ونډه پکي لري ددې خبري يوسند هم دا کيدای سي چي دکوکناروډکښت په وخت لوړپوړي چارواکي له کابل څخه تربل هر وخت ډېرهلمندته راځي او دهلمند لوړپوړي چارواکي دوی يوبل سره په ناروا ډاليو ستايي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

٦ . دکوکناروپه وړاندي دبهرنیوځواکونوسیاست: له لومړیه تروریستیه بهرنیان داچي دکوکنارو دکښت په له منځه وړلو کي وفادار نه دي پاته سوي بلکه په غیري مستقیم ډول يې ورڅخه ملاتړ کړی دی. ځکه دوی يې خلپه کاروبار کوي اودافغاني جګړې بیه هم په همدې پرې کوي او داددوی دسیاست یوه ستره برخه جوړوي.
٧. په تاریاکو دبهرنیو پوځیانو روږدېدل: څو ورځي مخکي یو راپور خپورسوچي پکي دبهرنیوپوځیانو دروږتیا خبره سوې وه ، دا راپور رښتنی واقعیت لري په هلمند کي نږدې لوی اوکوچینی په دې خبر او ویني يې چي بهرني سرتیري په لویه پیمانه په نشئ توکو روږدي دي په خاصه توګه تاریاک چي یا يې خوري اویايې څکوي او یاخپل ورسره سګریټ په ککړوي او څکوي يې.
بهرني سرتیري دشپې له مخه دکوکنارو په کروندو ګډیږي او دتاریاکو نیښ سوې شیره ټولوي بزګر اوکښتګر يي په سترګو ویني خوله بیري څه نه سي ورته ویلای. لومړی خودهیروینو بیه په هلمند کي بې حده کښته ده او په ډېره اسانۍ سره يې ترلاسه کولای سي دځینو ملي پولیسوپه وینا چي بهرنیان د شخصي ګټو لپاره دخلکو کورونو ته ور لویږي او په کور کي پیداسوي تاریاک له ځان سره وړي او کاروي يې د بهرنیو عسکرو په نشه روږدېدلو باندي افغان ملي اردو او ملی پولیس پری خبر دی.


.

٨. طالبان اوکوکنار: کوکنار دطالبانو لپاره هم یو پوره مادي ملاتړ دی او طالبان خپلو اهدافو ته درسېدو لپاره دیو ډول ممکنه کار څخه مخ نه اړوي هغه که کوکنار وي، اختطاف وي او یاغلا ټولي لاري دځان لپاره روا بولي. په هلمند کي دطالبانو له خوا دعشر اوزکات په نامه دکوکنارو دکروند ګرو څخه پر یوه جریب مځکه دوه سیره (خرده) په زوره غواړي او یا ځیني ځایونه کروندګرو ته وایي چي هرڅومره مو چارواکو ته ورکړي وي هغه دنومونو لیستونه غواړو او پوره هغونه مبلغ غواړو داکارشاوخوا دهلمند په ټولوهغو ولسوالیوکي چي طالبان موجود وي ترسره کیږي.  دا يې داسلام دعوه ګیر!



داهرڅوک مني چي د طالب دسپېڅلي نامه څخه په ګټه اخیستلو دبشراو اسلام ترټولو ناوړه کارونه  همدا دوږخي طالب کوي چي په دې کارسره اوسنی جعلي طالب او ددین دلاري سپېڅلی طالب(دوږخي اوجنتي) طالب سره ګډ نه شي په صحنه کي جنګېدونکي طالبان ترډېره  د نورو ګمارل سوي دلاس ابزار دي چي نه د دین په خیر دی او نه هم د افغانانو، چي تر هرچا همدوی داسلام سپېڅلې څېره دنړیوالو په وړاندي بدنامه کړه او په خاصه پښتانه خو يې تر هرچا ټوکر- ټوکراو دخواږه ژونده محرومه کړل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

۹. کوکنار اوپرزده کړویی منفي تاثیر: کوکنارو لکه څنګه چي یې دژوند پر نورو برخو خپل منفي تاثیر درلودلی همداسي یې د زده کړو پر بهیرهم خپل ژور تاثیرلرلی دی هغه په دې مانا چي کله په هلمند کي دکوکنارو دکښت اوټول وخت راورسیږي په زیاته پیمانه دپوهنتون،مکتبو اودارمعلمینو استادان،محصلین اوشاګردان هم ښوونځی پریږدي او کوکنارو په نېښوولو پسي لاړشي اودزده کړي اومعارف چوکی خالي ولاړي وي چي هلته یې ډیری په نشه هم روږدي کیږي اوبیرته راګرځي چي دې کار پرخپل ځای په هلمند کي دمعارف اولوړو زده کړو پر بهیر ناوړه تاثیر درلودلی چي دارږغ دمعارف هیڅ یوه خواخوږي پورته نه کړ.

په اخرکي دکوکنارو څخه ډیره ګټه بزګرنه بلکي لوړپوړي چارواکي ، قاچاق براوجنګي طالبان اخلي چي دې کار نه یوازي په هلمند کي نه بلکي په سیمه کي دبدامنیو باعث ګرځېدلی اوهلمند دمکسیکو په څیر دنړیوال مافیا ډګر ګرځېدلی کوربه خوهغه کوربه دی هغه متل دی چي غل غلا کوي کوربه ورسره دجوال خوله نیسي!

په دې هیله چي هلمند او دهیواد نورولایتونه د کوکنارو له کښت او سیاست څخه پاک او دعزت ژوند ولري!

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ